السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ) ووايه، زه به درته د الله تعالی په وړاندې د) قیامت په ورځ ګواهي ورکړم

له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل کاکا ته وویل: « (لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ) ووایه، زه به درته د الله تعالی په وړاندې د قیامت په ورځ ګواهي ورکړم»، وایي: که چېرته قریشو پېغور نه راکاوه او نه یې ویل: چې سختۍ - د مرګ وېرې او کمزورۍ - دې کار ته اړ وېسته نو ستا سترګې به مې پدې سره یخې کړې وې، نو الله تعالی دا آیت نازل کړ: {إِنَّكَ لا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ} [القصص: 56]. یعنې: بېشکه ته هدایت نشې کولی هغه چا ته چې ته یې خوښوې، او لېکن الله (هدایت ورکوي چا ته چې وغواړي او هغه ښه عالم دی په هدایت موندونکو باندې

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپل تره ابو طالب څخه په داسې حال کې چې د مرګ په سختیو کې و، وغوښتل چې: (لا اله الا الله) ووایي تر څو ورته د قیامت په ورځ شفاعت وکړي، او په اسلام یې ګواهي ورکړي، هغه د شهادت له کلمې څخه لدې وېرې انکار وکړ چې قریش به یې وکنځي او په اړه به یې ووایي چې: هغه د مرګ او کمزورۍ له وېرې اسلام راوړ! نو نبي صلی الله علیه وسلم ته یې وویل: که چېرته داسې نه وای نو خامخا به مې د شهادت په ویلو سره ستا سترګې یخې کړې وې، او ته به مې ستا مراد ته رسولی وی تر دې چې ته راضي شې! نو الله تعالی هغه آیت نازل کړ چې پدې دلالت کوي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم اسلام ته د توفیق د هدایت واک نه لري، بلکې الله تعالی یوازې هغه ذات دی چې د توفیق هدایت چاته ور په برخه کوي، او پیغمبر صلی الله علیه وسلم خلک په دلالت، بیان، لارښوونې او بلنې سره خلک نیغې لارې ته رابلي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65069

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee